
# مطبوعاتي اعلاميه

## د خلافت د يوه غوښتونکي، عمر جادون خان نيول د اسلام پر وړاندې د ټرمپ د جګړې لپاره د پاکستان رژيم ژمنتوب په ډاګه کوي

(ژباړه)




د ۲۰۱۹م د جنوري پر ۳۰مه خلافت غوښتونکی عمر جادون خان په پېښور کې د پاکستان د امنيتي ځواکونو له لوري ونيول شو. عمر هغه مهال ونيول شو کله چې نوموړي د پاکستان د رژيم په اړه داسې اعلاميه وېشله چې پکې د پاکستان رژيم د طالبانو او امريکايي چارواکو د خبرو اسانولو له امله ملامت شوی و چې د پاکستان دغه کار په سيمه کې د امريکايي ځواکونو د اوږدمهاله شتون او په نظامي اډو کې د منظم امريکايي ځواکونو او د نظامي خصوصي قراردادیانو په توګه د امريکايي سرتېرو د خوندېتوب لامل کېږي.

محمدعمر د جادون له کلي څخه د پېښور په ستره محکمه کې يو قانونپوه دی. د عمر پلار جمشيد جادون يو مشهور قاضي و کوم چې په يوه حقوقي قضيه کې د حقيقي پرېکړې له امله شهيد شوی و او د مېړانې جايزه ورکړل شوې وه. عمر په داسې حال کې له ناروغۍ کړېږي چې کونده مور يې هم تر يوې سختې ناروغۍ وروسته له روغتونه بهر شوه.

عمر تر هغې وروسته ونیول شو چې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د جزا قانون د تعدیل وړاندیز ومانه، چې پکې جبري ورکوونه یو جرم ګڼل شوی. اوس د ورکوونې په غندلو سره سره د عمران- بجوا رژیم خپلو امنیتي ځواکونو ته د داسې کسانو د نیولو اجازه ورکوي چې په رژیم کې د ښکېلاک پر وړاندې د سیاسي مبارزې مسولیت پر غاړه اخلي. د دې تر څنګ تر ټاکنو وړاندې له ښکېلاک سره د مبارزې پر ادعا سربېره، عمران خان په پاکستان کې د امریکا د راج د شتون لپاره خپل ځان، امنیتي ځواکونه او د خلکو باور په ارزانه بیه وپلورل. عمران خان د خلافت د غوښتنې د شعارونو له ورکولو سره سره هغه کسان ځوروي چې راشده خلافت غواړي، په داسې حال کې چې د امریکا سفیر، امریکایي قومندان ازاد پرېښودې ترڅو له هر چا سره چې وغواړي لیدنه کولای شي.

اې د پاکستان مسلمانانو! الله سبحانه وتعالی فرمايي:

## ﴿إِنَّ الَّذِينَ فَتَنُوا الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ لَمْ يَتُوبُوا فَلَهُمْ عَذَابُ جَهَنَّمَ وَلَهُمْ عَذَابُ الْحَرِيقِ﴾

[بروج: ۱۰]

***ژباړه:*** *هغه څوک چې مومنان ځوروي او توبه نه کوي، هغوی لپاره د دوزخ عذاب دی او په اور کې به وسوځي.*

د هغو کسانو ځورول نه ښونکی جرم دی چې د ژوند د تګلارې په توګه د اسلام لپاره غږ کوي، په داسې حال کې چې د پاکستان خاین او ګناه کاره مشران له اسلام سره د ټرمپ د جګړې پر تعقیب ټینګار کوي. د پاکستان مسلمانانو ته اړینه ده چې د خلافت د غوښتنې پرسر د نیول شوو کسانو د خوشې کولو غوښتنه وکړي؛ هغه که عمر جادون، محمد جمشید اقبال او یاهم نبیل اختر وي، کوم چې د ۲۰۱۷م کال د سپټمبر پر ۱۵مه د پاکستاني میلشو له لوري نیول شوی و. د دې تر څنګ د حزب التحریر ولایه پاکستان د مطبوعاتي دفتر ویاند نوید بټ، چې د ۲۰۱۲م د مې پر ۱۱مه نیول شوی و. اوس هغه وخت راغلی چې د پاکستان مسلمانان له هغه چا سره یوځای شي چې خلافت غواړي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره یو ځل بیا خلافت تاسیس کوي. هغه نظام چې ظالم رژیمونه به ونړوي او د پای ټکی به ورته کېږدي. احمد له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي:

## «ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ ثُمَّ سَكَتَ»

*ژباړه: له هغه وروسته به ظالم حکومتونه وي او تر هغه وخته به دوام کوي چې الله سبحانه وتعالی وغواړي. کله چې الله سبحانه وتعالی وغواړي، له منځه یې وړي او تر دې وروسته به د نبوت پر تګلاره خلافت راځي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم غلی شو.*

***د حزب التحریر ـ ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر***

**د صدور ګڼه: ۲۸/۱۴۴۰**

۱۴۰۰هـ.ق د جمادي الثاني ۲۵مه

۲۰۱۹ د فبروي ۲یمه